واحد فقیري ۲۰۱۲/۱۰/۰۷

# د ارګ « شر انداز » چال

د کابل تعلیم او تربیې پوهنتون نوم د فقید برهان الدین رباني په نامه باندي د حامد کرزي د بدلولو فرمان څکه له فتني او شره ډک دی چي په افغاني ټولنه کي جهادي مشران تل متنازع، جنجالي، او د ۱۹۹۰ په سکتوري او داخلي جنګونو کي تر بل هر چا زیات ګرم او دخیل ګڼل کیږي.

هر جهادي مشر په خپل وار د هیواد په مختلفو سیمو کي قتلونه او ورانی کړي دي. د «شر او فساد» په پېر کي، جهادي لیډرانو هر یوه جلا جلا د هیواد د دولتي، اقتصادي، او کلتوري زیربناوو او مسلکي کدرونو په ویجاړولو او ځپلو کي پوره برخه لرله. د کابل ښار د ښاغلي رباني په دوران کي - ۱۹۹۲-۱۹۹۶ - د بربنډ او تاریخي ظلم او شرارت لاندي وو. که څه هم پخپله رباني صاحب فطرتا ظالم او دیکتاتور نه وو، خو قومندانانو یې د کابل په لوټ او تالان کي تر بل هر چا ډېر مسولیت درلورد. د جهادي مشرانو او قومندانانو په مورد کي هر بېطرف او مستقل ناظر دې منطقي نتیجې ته رسیږي چي د هغوی په ارتباط د تاریخ قضاوت منفي او له عبرته ډک دی.

بلخوا، د امریکا او ناټو قواوو د وتلو په جریان کي دولتي موسسات او ودانی په جهادي مشرانو پسي نومول یو شر اچونکی عمل څکه دی چي عام افغانان جهادي لیډران د سولي، وحدت، او ثبات استازي نه بلکي د کمونستانو را وروسته د یو بل خطرناکه سیاسي زوال مخکښان ګڼي. د ارګ دا فرمان څکه له فساده ډک دی چي روان قومي تعصبونه او احساسات لا غښتلي کوي. د هیواد سیاسي وضع لا مغشوشه کوي، او فرقوي نانډرې لا زیاتوي.

بل پلو، د ارګ وروستي مصلحتونه او سازشونه زیاتره قومي او سمتي رنګ او خوند لري. که څه هم حامد کرزي له ۶۰ مېنتېس سره پخپله وروستي مرکي کي په هیواد کي له زیاتېدونکي قومي تاوتریخوالي له موجودیت څخه چورلټ انکار کوي، خو د افغاني جامعي عیني واقعیتونه د هغه فکر او تحلیل کاملا غلط، اوم، او غولونکی ثابتوي. د افغان کشالي یو متخاصم طرف ته د ارګ کرنش ښیي.

په سیاسي او ستراتیژیک لحاظ، د کابل اداري یوه اساسي اشتباه دا ده چي د خپل پیداېښت له لومړۍ شېبې راهیسي د جهادي مشرانو او قومندانانو په منګلو کي راګیر سوی دی. همدا وجه ده چي د کابل حکومت او افغان ولس تر منځ بدګوماني او فاصله ورځ تر بلي ډېرېږي. څکه عام ولس د هغوی د نویو ماسکونو تر شا هغه پخواني جمعیتي، حزبي، شورا نظار، وحدتي، او د اتحاد وارلاډان او قومندانان ویني چي د طالبانو له دار او هیبته په کولاب، مشهد، کوټه، او پېښور کي خپ ناست ول، او هلته په نامشروع بزنس، جاسوسي، او پارټ ټایم «مقاومت» باندي لګیاول.

خو له ۲۰۰۱ راهیسي د امریکا د وارداتي ډیموکراسی له برکته د اوسني حکومت اکثره وزیران، عالي رتبه مامورین، سفیران، او والیان یا جهادي مشران، یا قومندانان، او یا د هغوی چوکره ګان دي. د هیواد په ګوټ ګوټ کي، همدا مشران د ناټو او امریکا له مامورینو سره په اول کتار کي څنګ پر څنګ ناست وي، او د یو بل په غوږونو کي د مرستي، همکاری، او اخوت پوس پوس کوي.

ددې تر څنګ، که چیري پر یوې دولتي ودانی او موسسي باندي د یوه مشخص جهادي مشر نوم کېښودل سي، نور جهادي مشران به مخامخا دېته وهڅوي چي د ځان لپاره کوم پوهنتون او یا هوایي میدان وغواړي. که چیري دا مسابقه چلانه سي بیا به د هیواد هر غر او سمه، ښار او کلی، پوهنتون او مرستون د ۷ پېښوري جهادي لیډرانو، د ۸ مشهدي شیعه رهبرانو، او څو درزنو قومندانانو په اسماوو ونومول سي.

د ارګ ددغي فتني په مقابل کي د معترضو محصلینو درېځ او اقدام د قدر ،احترام، او ملاتړ وړ دی. معترضو محلصینو په خپل سوله ایز اعتراض وښوده چي افغان محصل د یوه جوړونکی مخالفت او اعتراض د انسجامولو جوګه دی. د تعلیم او تربیې پوهنتون محصلینو دا هم ښوده چي که افغان محصل او منور لاسونه سره ورکړي، پر خپل مټ ویسا ولري، مبتکر او ځان بسیا وي،او خپل هدف پخپله وټاکي، بیا نو په ریس جمهور باندي هم اقرار


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

کولای سي چي «دا زما یوه لویه تېروتنه وه.»  جمهورریس په ارګ کي محصلینو ته ویلي ول چي هغه فکر نه کاوه چي دا فرمان به دونه غوغا جوړه کړي!  خو  هغه په ټېنګار کړي وو چي د فرمان د لغو کولو  توان نه لري.

د کابل د تعلیم او تربیې پوهنتون  د محصلینو  عمل او اعتراض څکه مهم او ارزښتناکه دی چي د کرزي حکومت نه یوازي د وسوال مخالفت او بهرني حامیانو له نه بدلېدونکي وتلو سره مخامخ دی، بلکي په مدني ټولنه کي هم د مهمو اقشارو، صنفي او مسلکي ډلو په مینځ کي بې یاره او رټل سوی دی. دغه راز، ددې امکان سته چي د وخت په تېرېدو سره مدني ټولني د محصلینو له اقدام څخه الهام واخلي او  دحامد کرزي په حکومت کي د پراخ رشوت، اختلاس، او سیاسي زوال پر خلاف ورته شان عمل وکړي.
په پای کي، د نړۍ په هر ملک کي د پخواني ریس جمهورانو ، تاریخي او اجتماعي مشرانو په نامه ځایونه نومول کېږي، مګر په نورو هېوادونو کي حکومت یا مدني موسسې یو نوی ځای جوړ کړي، بیا یې د خپلي خوښي کس ته وقف کړي.  زما وړاندیز دا دی چي ارګ دي یو نوی پوهنتون، هوایي میدان، مکتب، کتابتون، یا روغتون جوړ کړي، او  بیا دي د خپل شوق او ذوق سره سم ونوموي. خو په زړو  او پوخو نومونو او د نورو په مټ جوړ سوي ځایونو دي کار نه لري، کنې تل به د نن ورځي په شان پړ او محاصره وي.

پایان


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ